safar

# د عیسی نه پیروي

## زده کړه او د هغه په شان ژوند کول

### د پیل ټکی

- که تاسو کولی شئ په خپل ځان کې یو ځانګړی تخصص یا مهارت ته وده ورکړئ، هغه مهارت به څه وي؟
- تر ټولو غوره کس څوک دی، چې تاسو غواړئ له هغه یې زده کړئ؟
- ستاسو په نظر به کوم شیان په زده کړه کې ستونزمن وي؟

### اصلي مفکوره

د تاریخ په اوږدو کې خلکو خپل مهارتونه، مسلکونه او د ژوند کولو طریقه له یو استاذ سره په شاګردۍ کې زده کوله. هغوی غوږ نیوه، ورته کتل یې او د خپل استاذ طرز یې کاپي کاوه او هغه نمونه چې هغوی ته ورکړل شوې وه، له هغه یې پیروي کوله او څه یې چې زده کړي ؤ، په هغه باندې یې عمل کاوه او خپلو وړتیاوو ته یې وده ورکوله.

عیسی مونږ ته بلنه راکوي چې د هغه سره شاګردان واوسو او له هغه پیروي وکړو، نه دا چې یوازې وژغورل شو. مونږ زیاتره هغه چا ته شاګرد وایو چې د عیسی یې زده کوي او د هغه په شان ژوند کوي.

لاندې ایاتونه په ګډه ولولئ. د عیسی نه پیروي څنګه ده؟

- متی ۴: ۹۱-۲۰
- متی ۷: ۲۴-۲۷
- متی ۱۱: ۲۸-۳۰

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

دایوه واضح خبره ده چې د عیسی څخه پیروي قیمت لري. په ټول نوي عهد کې مونږ ګورو چې شاګردۍ ته بلنه، د ټول ژوند دپاره یوه ژمنه ده.
دا ایاتونه ولولئ او هرهغه څه چې د شاګرد کېدلو په هکله زده کوئ، بحث او خبرې وکړئ.

- متی ۱۶: ۲۴- ۲۷
- یوحنا ۱۲: ۲۶-۲۷
- دویم قرنتیان ۵: ۱۴-۱۵
- غلاتیان ۲: ۲۰

له دې ایتونه یئ زده کوو چې یو مسیحي شو یا د مسیح پیرو اوسوو، باید د هغه دپاره ژوند وکړو او هغه ته اجازه ورکړو، تر څو زمونږ د ژوند هر اړخ ته شکل ورکړي.

### بحث او خبرې

له هغه ځایه چې د عیسی شاګردي قیمت لري، د عیسی بلنې ته د خلکو ځوابونه مختلف دي. ځینې لکه پطرس، یوحنا او متی چې سمدستي ټول شیان یې پرېښودل او د هغه پسې روان شول (د مثال په توګه: متی ۹: ۹)، خو ځینې کسانو نور لومړیتوبونه هم درلودل او د عیسی شاګردان نه شول ( ۹: ۵۷-۲۶)

په یوحنا ۶: ۶۶-۶۹، وروسته له دې چې عیسی ننګونکی تعلیم ورکړ، ګورو چې ډېر کسان د هغه له پیروانو څخه ناراضه شول او نور یې له ده

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

پیروي ونه کړه، خو نورو بیا پرېکړه وکړه چې د عیسی سره پاتې شي او له هغه نه زده کولو او د هغه په شان ژوندکولو ته دوام ورکړي.

- کوم دلیل ؤ چې پطرس د عیسی شاګرد پاتې شي؟
- کوم دلیلونه مونږ سره شته چې پرېکړه وکړو په بشپړه توګه سرتېره شاګردان شو، حتی کله چې د عیسی شاګردي ننګونکي ده؟

**کلمه وپلټئ**
**(دوهمه برخه)**

لکه څنګه چې پطرس وښودله، د ټولو نه ښه پرېکړه چې نیولئ شو داده چې د عیسی شاګردان واوسوو. هو، قیمت لري، خو د هغه سره د پاتې کېدو خوند او انعام د هر قیمت څخه ډېر دی.

دا ایتونه ولولئ او هغه دلیلونه فهرست کړئ چې زمونږ په ټول ژوند کې ولې د ټولو نه ښه پرېکړه چې کولای شو، ونیسو، هغه د عیسی څخه پیروي ده.

- یوحنا ۸: ۱۲
- یوحنا ۱۰: ۱۰-۱۱
- یوحنا ۱۱: ۲۵
- یوحنا ۱۴: ۶
- یوحنا ۱۵: ۱۱

اوس ستاسو وار دی: لکه څنګه چې تاسو سپېڅلی کتاب په تېرو هفتو کې لوسته، ایا ستاسو په فکر کې کوم ایت راځي چې د عیسی نه د پیروی د یو لوی دلیل په توګه یاد شي.
هغه ایت ولیکئ او په خپل لیست کې یې ور زیات کړئ.

**همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.**

د یو او بل سره د عیسی نه د پیروي کولو تجربې شریکې کړئ.

- څه شیان مو له هغه زده کړل چې ستاسو د ژوند کولو طرز یې بدل کړ؟
- د څه شي په زده کولو بوخت یئ، چې همدا اوس ورته اړتیا لرئ او په عمل کې ورڅخه کار اخلئ؟
- کوم ګامونه کولای شي د پیل دپاره په دې هفته کې اوچت کړئ؟

راځئ چې څو دقیقې یو ځای دعا وکړو او څښتن ته ووایو چې غواړو د هغه شاګرد شو. کولای شئ د دعا دپاره د دې کلیمو څخه کار واخلئ:

- څښتنه، غواړم ستا شاګرد شم او ستا نه یې زده کړم، ستا نه پیروي وکړم او هغه څه چې ماته را زده کوې، په هغه عمل وکړم.
- څښتنه، غواړم چې په ما کې بدلون راولې، چې ستا غوندې او ستا د هدفونو دپاره ژوند وکړم.
- څښتنه، د خپل ځان نه انکار کوم، ځکه باور لرم چې ته د رښتیا او د ژوند لاره یې.

**هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.**

- د عیسی نه پیروي کول تمرین کړئ:
  - په نظر کې ولرئ چې څښتن څه شی تاسو ته در زده کوي یا له تاسو نه غواړي چې کوم کار سرته ورسوئ.

په دې هفته کې د هغه نه په عملي کولو سره پیروي وکړئ.

- د هفتې په اوږدو کې یې یو د بل سره شریک کړئ چې څنګه تاسو کولای شئ د عیسی نه پیروي وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- د راتلونکو ګامونو نه مخکې، له یو بل سره وخت تېر کړئ.

عیسی خپلو شاګردانو ته ور زده کړل چې له نورو سره مینه وکړئ او د نورو سره له اړیکې خوند واخلئ. ه��ه خپل شاګردان ودونو ته په بېولو سره هغوی ته جشن نیول ورزده کړل، د شپې مېلمستیا هغه ځای ؤ چې هغوی د مختلفو کسانو سره ملګري شي، په سفر کې شاګردانو خبرې کولې، ډوډۍ خوړله او په ګډه عبادت کاوه او دا یې زده کړل چې څنګه یو د بل په سره ژوند وکړي.
مخکې له دې چې راتلونکی ګام سرته ورسوئ، یو پلان جوړ کړئ او د یو ځای اوسېدلو څخه خوند واخلئ. یو څو نظریات:

- په ګډه یو وخت ډوډۍ وخورئ یا څښاک وڅښئ.
- په ګډه په چکر لاړ شئ او د خلاصي فضا څخه خوند واخلئ.
- خپله کورنۍ یا ملګري مو یو بل ته معرفي کړئ.
- په ګډه د یو نوي فعالیت هڅه وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved